# د امریکا د متحده ایالاتو د کار وزارت

## د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنې په هکله د کال ۲۰۲۱ موندنې

## افغانستان

**افغانستان په کال ۲۰۲۱ کې د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنو په له منځه وړلو کې کوم پرمختګ نه دی کړی. په دې راپور په موده کې په افغانستان کې چارواکو په تروریستي جرمونو د لاس لرلو په تور ماشومان نیولي، توقیف کړی او محاکمه کولې دي چې په هغو کې د ۱۲ کلونو څخه کم عمره ماشومان هم شامل دي چې د غیر دولتي وسله والو ډلو له خوا په زور استخدام شوي وه. سربېره پر دې حکومت د انسان د قاچاق ځینې قرباني ماشومان چې په ځانګړي توګه د بچه بازۍ او جګړې لپاره ګمارل شوي وو، د مجرم په توګه پېژندلي او د قربانیانو د ملاتړې اداري پر ځای یې د تنکي ځوانانو زندانونو ته اچولي چې د بد چلند او شکنجه سره مخامخ دي. په افغانستان کې ماشومان د ډېرو ناوړو کاري ګمارنو سره مخامخ دي، د تجارتي او جنسي ګټه اخیستنې، وسلوال جګړې، او د خښت او قالین په تولید کې د جبري کار پشمول. افغانستان د ماشومانو کاري قانون د سرغړونو لپاره د مجازاتو د ټاکلو میکانیزم نه لري او د ماشومانو کار د ناوړه دودونو د له منځه وړلو لپاره د پروګرامونو له نشتوالي سره مخامخ دی. سربېره پر دې د افغانستان قوانین جبري کار، د قرض پر وړاندې غلامي، او د انجونو څخه تجارتي او جنسي ګټه اخیستنه په کافي اندازه جرم نه ګڼي.**

| د ماشومانو کار د ختمولو لپاره حکومت ته وړاندیز شوي چارې | | |
|---|---|---|
| **برخه** | **وړاندیز شوي چارې** | **د وړاندیز کال** |
| قانوني جوړښت | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د پیلولو تر ټولو مجاز ټیټ عمر پر ټولو ماشومانو یوشان پلې کیږي، د هغو ماشومانو په ګډون چې په غیر رسمي کارونو کې بوخت دي. | ۲۰۱۹-۲۰۲۱ |
| | باید ډاډه شو چې قانون د بدلمنی او سکسي کړنو لپاره د ماشومې انجونې کارول جرم ګڼي او له هغه څخه مخنیوی کوي، او همدا شان د سکسي فیلمونو د جوړولو لپاره د نورو ټولو ماشومانو ګمارنه. | ۲۰۱۷-۲۰۲۱ |
| | جبري کار او د پور پر وړاندې غلامي باید جرم وګڼل شي او ورنه مخنیوی وشي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۱ |
| د قانون تنفیذ | د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ماشومانو د خوندیتوب لپاره عملیاتي شبکې جوړې شي، او ډاډ ترلاسه شي چې دغه شبکې کولای شي د قرباني شوي ماشومانو لپاره ټول اړین خدمات وړاندې کړي. | ۲۰۱۶-۲۰۲۱ |
| | هغه معلومات چې د کار قانون د تنفیذ اقداماتو په پایله کې لاسته راځي باید تعقیب او خپور شي، د کار د شرایطو نظارت اداري د بودجې، د کار نظارت کونکی شمیر، د نظارت شمیر او ډول چې د ماشومانو د کار په هکله ترسره کیږي، د موندل شوي سرغړونو شمیر، او د ماشومانو د ګمارنې په برخه کې د هغو سرغړونو شمیر چې جزا ورته ټاکل شوي دي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۱ |
| | د کار د قانون نظارت کونکی اداري ته اجازه ورکړل شي ترڅو په افغانستان کې قانوني سرغړونې ته جزا وټاکي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۱ |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د قانون نظارت کونکی او د جنايي څېړنو مامورینو د ماشومانو د کار شرایط په هکله روزنه ترلاسه کړي دي. | ۲۰۱۱-۲۰۲۱ |
| | د کار دقانون نظارت کونکی شمیر زیات شي ترڅو د کار د نړیوال سازمان تخنیکي سپارښتنې پوره شي، نظارت باید په ټول هیواد او په ټولو برخو کې ترسره شي. | ۲۰۱۱-۲۰۲۱ |
| | د ماشومانو د کار په هکله د شکایتونو مکانیزم باید ساده جوړ شي ترڅو تقریري شکایتونو ته لاره هواره شي، او دا شرط باید لیری شي یا ورته تخفیف ورکړل شي چې د سرغړونې د ثابتولو لپاره عارض کس قانوني دلایل وړاندې کړي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۱ |

| د ماشومانو کار د ختمولو لپاره حکومت ته وړانديز شوي چارې | | |
|---|---|---|
| **برخه** | **وړانديز شوي چارې** | **د وړانديز کال** |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د قانون نظارت کونکې نه يوازې په کابل کې بلکه په ټول هيواد کې خپله نظارت ترسره کوي. | ۲۰۱۴-۲۰۲۱ |
| | بايد يقين ترلاسه کړو چې د کار د قانون نظارت کونکې او د جنايي څېړنو مامورين د لاسرسي وړ دي او امکانات په واک کې لري، د تجهيزاتو او ترانسپورت په ګډون، ترڅو وکولای شي د ماشومانو د کار اړوند جنايي قوانين پلې کړي. | ۲۰۱۲-۲۰۲۱ |
| | د جنايي ادارې او ټولنيزو خدماتو ترمينځ د رجعت يو مکانيزم جوړ شي. | ۲۰۲۰-۲۰۲۱ |
| | بايد ډاډ ترلاسه کړو چې د قاچاق او نورو ناوړو کارونو اغيزمن شوي ماشومان د قربانيانو په توګه وپېژندل شي او مناسبه ټولنيزو خدماتو ته راجع شي، دوی بايد توقيف او يا زندان ته وانچول شي، او د شکنجه او بد چلند سره مخامخ نشي. | ۲۰۱۴-۲۰۲۱ |
| | يقيني شي چې ماشومان د وسلوال ګروپونو او د حکومت اړونده پوځي ارګانونو لخوا نه ګمارل کيږي، او همداراز د اسنادو له جعل کاری څخه مخنيوی وشي. | ۲۰۲۰-۲۰۲۱ |
| | هغه اقدامات چې د جزا دقانون له مخه تنفيذ شی او پلې کيدو لپاره ترسره کيږي بايد خپاره شي، په شمول د جرايمو کشفي تيم روزنې، د کشف تيم شمير، موندل شوي سرغړونې، قانوني تعقيب او د مجرمينو محاکمه. | ۲۰۲۱ |
| | هغه دولتي چارواکي چې د ماشومانو د کار په ناوړه کړنو کې لکه بچه بازی او د ماشومانو په نظامی صفوفو ګمارل کې لاس لري، بايد وپوښتل شي، ونيول شي، تحقيق ترې نه وشي او که اړتيا وي محاکمه شي. | ۲۰۲۱ |
| همغږی | ډاډ ترلاسه شي چې د همغږی تول ادارو فعال دي او کولای شي سپارل شوي دندې ترسره کړي، دا چې د خپلو کړنو مفصل معلومات د همغږی اړوندې ادارو ته واستوي او د سپارل شوي دندې په اړه جلسي ولري. | ۲۰۱۷-۲۰۲۱ |
| دحکومت پاليسي | بايد ډاډ ترلاسه شي چې د ماشومانو کار پورې د اړوند بنسټيزو پاليسيو پلې کولو لپاره اقدامات ترسره کيږي، او د دې اقداماتو پايلې د راپور ورکولو په موده کې خپريږي. | ۲۰۱۶-۲۰۲۱ |
| ټولنيز پروګرامونه | د زيرون نېټې يو کمپاين بايد ترسره شي ترڅو عمرونه تثبيت او ماشومان وکړای شي ښونځيو ته لاړ شي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۱ |
| | د ټولنيزو پروګرامونو د تطبيق لپاره بايد د راپور ورکولو په موده کې د ماشومانو د کارونو په اړه اقدامات ترسره شي او د دغه اقداماتو د تطبيق په اړه خلکو ته معلومات ورکړل شي. | ۲۰۲۱ |
| | ښوونې او روزنې ته د ښه لاسرسي او په ښوونځيو کې د امنيت د ښه کولو لپاره بايد پروګرامونه جوړ شي، په ځانګړې توګه په هزاره شيعه ميشتو سيمو کې د نجونو لپاره. | ۲۰۱۴-۲۰۲۱ |
| | حکومت ته داسې ظرفيت جوړ شي ترڅو د ماشومانو د خونديتوب لپاره په پوره ډول د راپور ورکونې چينلونه په واک کې ولري، ترڅو دغه ماشومان وپېژني او د امنيتي ځواکونو سره د دوی د يوځای کيدو مخه ونيسي، دوی ته استوګنه او خدمات برابر کړي او بيرته خپلو کورنيو سره يې يوځای کړي. | ۲۰۲۰-۲۰۲۱ |